# دلویدیزپینځه (۵) غوښتنې دحامد کرزی نه دبهرنیو ځواکونو داسانه وتلو دپاره دافغانستان څخه !

دانټرنیټ دفارسي سرچینو څخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

لندن – لویدیز دافغانستان څخه دخپلوځواکونو داسانه وتلودپاره دافغانستان دجمهور ریس حامد کرزی څخه پینځه بنسټیزی غوښتنې لري چې کیدی سي دغه غوښتنې دلندن په راتلوونکی کنفرانس کې چې دافغانستان دامنیتی وضعی ،اوضاع او حالاتو دپاره په نظرکې نیول سویدی دافغانستان دجمهور ریس په واک کې به ورکول سي .

دلندن چاپ د آبزرورااونیزی ولیکل : دافغانستان په جګړه کښې ښکیل هیوادونه د راتلوونکی نوی زیږدیزکال دجنوری دمیاشتی په اته ویشتمه (۲۸مه) نیټی باندی غواړي چې په لندن کې یو نړیوال کنفرانس دافغانستان دامنیتی وضعی ،اوضاع اوحالاتوپه اړه پرانیزی اوپه دی کنفرانس کې دحامد کرزی دافغانستان دجمهور ریس څخه پینځه بنسټیزی غوښتنې لري چې حامد کرزی باید هغه عملي اوترسره کړی ترڅولویدیزوال وکولای سی چې خپل ځواکونه په اسانه اوخوندی توګه سره دافغانستان څخه وباسي.

دغه پینځه (۵) بنسټیزی غوښتنې دتیری شنبې په شپې دفبروری دمیاشتی ۲۸ /۲۹نیټه باندی دانګلیستان دلمړی وزیر ګوردرن برون دخوا په لاندی ډول سره وویل سول اوهغه په دی ډول سره دی :

۱ – ددرو(۳) میاشتو په موده کې کابل دی باید ډېرځواکونه دپوځي دوري دزده کړودپاره د هلمند وولایت ته ور ولیږی .

۲ -دافغانستان دولت دی دشپږومیاشتوپه موده کې دی خپلې کړنلاری او پروکرامونه دی دپولیسو دځواکانو د روزنې دپاره جوړ او وړاندی کړی.

۳ – حامدکرز ی بایددنهو(۹ )میاشتوپه موده کې دی ځلورسوه (۴۰۰ ) والیان ،ښاروالان او ولسوالان دافغانستان ومختلفو ښارونوته دی مقرر ،معرفی او ورولیږی.

۴ - دانګلیس میشته ځواکونه د دوولسو(۱۲) میاشتوپه موده کې پینځه زره ( ۵۰۰۰ )تنه افغان سرتیری به دهغه هیواد د اردو دځواکونودپاره دهلمند په ولایت کې و روزی اونور زرګونی تنه ځواکونه به دافغانستان په نوروبرخوکې دامنیت دتامینولوپه خاطربه وروزی .

۵ - د(۲۰۱۰ ) ددوه زره لسم زیږدیزکال ترپای پوری دافغانستان امنیتی ځواکونه باید دافغانستان دځلوردیرشو(۳۴ ) ولایتونو دجملی څخه دپینځه(۵ ) مهمو ولایتونو او همدارنګه دهغه جملی څخه دهلمنددولایت په یو اویا دوه ولسوالیوکې داوضاع کنترول او امنیتی چاری په خپله غاړه باندی واخلی .

دآبزروردډی ریوټ پربنسټ ،دغه غوښتنی چې ګوردرن برون د مهمواوعمده اوښسیزو مسایلوترسرلیک لاندی یې بللی یې دی او په راتلوونکی نوې کال کې دجنوری په میاشتی کې دلندن په کنفرانس کې چې دافغانستان په هکله په نظر کې نیول سوی دی اوپه هغه کنفرا نس کې دامریکا دبهرنی چارو دوزیری په ګدون د(۴۲ ) دوځلویښتوښکیلوهیوادونود بهرینوچارو دوزیرانو په حضورکې به دافغانستان دجمهور ریس حامد کرزی اطلاع ته به ور رسوی او کرزی دی په عمل کې هغه اسانتیاوپه نظر کې ولري ترڅو چې دافغانستان څخه دبهرنی ځواکونودتلو دپاره لاره پرانیزی .

آبزرورهمدارنګه په دی اړه ولیکل: دانګلیس د دولت چارواکی ټینګار کوی او په ټینګه سره په دی پسی دی چې دافغانستان ددولت اودطالبانو ترمنځ دی دسولی خبراتری ترسره سي. دلندن چاپ دغې اونیزی دتورن جنرال ریچارډ بارونز چې دانګلیس ددفاع دوزارت دقوماندانانو دجملی څخه دی دهغه په حواله ولیکل: انګلیس ددی غوښتونکی دی چې دافغانستان د دولت او دملا محمد عمر ترمنځ چې په افغانستان کې دطالبانومشردی دسولی اوپخلاینی خبراتری دی پیل سی تر څو له دی طریقه دی پرانګلیسی ځواکونو باندی دطالبانودځواکونو دخوا دیرغل څخه مخنیوی وکړای سي .

دانګلیس هیواد نهه زره (۹۰۰۰ )تنه سرتیری د افغانستان دهلمند په ولایت کې لري او دافغانستان دجګړی دپیل څخه بیا تر دا اوسه پوری (۲۳۴ ) دوه سوه څلور دیرش تنه سرتیری او پوځیان یې په هغه هیواد کې د لاسه ورکړی دي ./

اخیځلیک: دقطره نیوز څخه